مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۷/۱۰

# منطقـــوی اقتصـــاد او چابهــــار بندر

## (په دې هیله چې زرنج مو "زرګنج" او دلارام مو د هر افغان "دل آرام" وي)

### سریزه:

پیاوړی اقتصاد، په خپلو پښو ولاړه تولنه، تولنیز ثبات، ملی پیاوړی حاکمیت، د ارضی تمامیت ډاډمنتوب، ملی او بین المللی لوړ پرستیژ هغه پیاوړي دریځونه دي چې وینبو ملتونو د اساسی مقاصدو په توګه ځان ته ټاکلی دی. نن ورځ اقتصاد یواځې د احتیاجاتو او فزیولوژکی ضرورتونو پوره کول نه، بلکې تر دې څخه اوچت اهداف، یعني هوساینه هم لري، چې کڼ شمیر معیارونه لري. پرمختللو هیوادونو، د رفاه اقتصاد ( Welfare Economy) او د رفاه دولت( Welfare State) ته پاملرنه کړې ده، هغه دوه ټکي چې دوی یې د ملت په وړاندې خپله لومړنی دنده او د خپلو خلکو د رضایت عامل بولی.
له بلې خوا د رفاه مسئله د نن ورځې د معاصر اقتصاد اصلی بحث دی. معاصر اقتصادپوه (Blaug Mark )په ډېر ښه شکل دا مسایل څیرلی دی او د دې موضوع لپاره یې د ( The Fundamental Theorems of Modern Welfare Economics) عنوان لاندې قواعد تشریح کړی دی. په داسې حال کې چې هر هیواد د خپلو خلکو د ژوند د ډیر ښه سمون لپاره هلې- ځلې کوي؛ افغانستان هم حق لري چې له اوږدې مودې جګړې وروسته یوه انسانی مرفه تولنه ولري او خپل طبیعی منابع، اقتصادی امکانات، موقعیت او هغه پوتانسیل چې لري یې، دخپلو خلکو په ګټه وکاروی. په دې لړ کې یوه لاره داده چې د افغانستان د جیوپولیتیک او جیو اکونومیک موقعیت څخه ښه استفاده وشی او له انزوا څخه ووځي. د دې مقصد لپاره باید د منطقوی سازمانونو، منطقوی اقتصاد، نړیوالو اوبو ته دلار موندنې، په بهرنی تجارت کې د لوی کسرد له منځه وړلو او له راز راز سیاسی فشارونو د خلاصون لپاره لارې ولټول شي. په دې کې یو هم د تجارت او اقتصادی مبادلاتو لپاره د امکاناتو لټول دي. په دې بهیر کې د چابهار د بندر پرانیستنه یو ښه زیری و. دلته به په ډیر لنډ ډول په دې موضوع بحث وشی:

### چابهار بندر د افغانستان د نویو اقتصادی او تجارتی اړیکو لپاره مناسب دهلیز:

افغانستان له هغه وخته چې انګریزی استعمار دلته د آسیا په دې سیمه کې یوه مصنوعی جغرافیه ایجاد اودهند او افغانستان له خاورو څخه یې د یوې یوې توتې په جلا کولو د پاکستان په نوم یو هیواد جوړ کړ، له هغه وروسته تر نن پورې په وچه پورې ایسار هیواد وګرځید او له سمندر سره یې رابطه پرې شوه. کلونه کلونه افغانستان لکه د یو شمیر نورو په وچه پورې ایسار هیوادو په شان له سمندري آسانتیاوو څخه محروم و. په وچه کې راګیروالي دسوداګری او اقتصاد لپاره یو لوی چیلینچ دی، خو دا ستونزه دوی ته کومه برخلیک ټاکوونکی مسئله نه ده، ځکه د دې ډول چیلینچونو د حل لپاره عملي حللارې شته. د مثال په ډول ترانزیتی دهلیز ته لاسرسی، منطقوي انضمام او همبستګی، قانوني او حقوقی فضاء رامینځ کول، بنیادي او اداري اصلاحات، نړیوال مستحکم او حمایوی میکانیزم ترلاسه کول، اقتصادی منطقی جوړول اونور. همدارنګه په وچه کې د راګیر هیوادونو د خارجي تجارت په جوړښت کې د ژورتحلیل له لارې پالیسی جوړونه کولای شي چې د نوموړو هیوادونو د ترانسپورت په مصارفو کې کموالي او نړیوال تجارت کې ښه والي رامینځ ته کړي. که څه هم د ملګروملتونو کنوانسیون د نړیوالو اوبو په هکله د قانون (۱۹۸۲) په ۱۲۵ بند کې راغلي دي چې په وچه کې راګیر هیوادونه حق لري چې د ترانزیتي هیوادونو د قلمرونو له لارې د ټولو ترانسپورتی وسایلو څخه په ګټه اخیستلو د خپلې ترانزیتي ازادي څخه د ترانزیت هیواد په خوښه او د دوه اړخیزه او منطقوی قراردادونو له لارې ګټه پورته کړي، له بلې خوا د افغانستان او پاکستان ترمنځ د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

(APTTA ) تجارتی او د اقتصادی همکاریو تړون لاسلیک شوی و، خو پاکستان ددغه تړون په یوه ماده هم عمل نه دی کړی او د واګې بندر يې په افغاني مالونو او تجارو بندکړی او د کراچې بندر کې يې هم افغاني سوداګرو ته تل ستونزی رامنځته کړی دی، په نتیجه کې افغانستان عملاً د ګاونډی پاکستان له خوا ځو ځو ځله دلاري په بندولوسره تر فشار لاندې نیول شوی دی.
خوشبختانه، د ولسمشر دوکتور محمد اشرف غني د سیاسي هلو- ځلو په نتیجه کې افغانستان ته دمنطقوي انضمام او همبستګی، قانوني او حقوقی فضاء، بنیادي او اداري اصلاحاتو، نړیوال مستحکم او حمایوی میکانیزم امکان برابر شو. تیرو پنځو کلونوکي مونږ د لاندې مهمو پروژو شاهدان وو: دوربیشمود لویې لارې پروژه، کاسازر، دلاجوردو لار، د آقینه بندر، دسوداګری نړیوال سازمان کې د افغانستان عضویت او دغه سازمان ته دیوه استازی استول، ټاپي پروژه، د اوبو بندونه او چابهار بندر.
د نړیوال تجارت په جوړښت کې د ولسمشر ژورتحلیل د دې سبب شو چې افغانستان د ترانسپورت په مصارفو کې کموالي او نړیوال تجارت کې ښه والي رامینځته کړي چې ښه او واضح مثال يې دچابهار بندر پرانیستنه ده. افغانستان له انزوا څخه د وتلو او نړیوالو اوبو ته دلاسرسي، دتجارت په برخه کې له راز راز فشارونو او انحصار څخه د خلاصون او دخپلو داخلی تولیداتو لپاره د مارکیټ د موندني لپاره له ایران او هند سره په ګډه همکاری د چابهار دبندر هوکړه لیک لاسلیک کړ.




دغه بندر دایران د هیواد د سیستان او بلوچستان ایالت کې واقع دی، چې د عربو سمندر له لارې له هند سره نښلي.
دغه لار د کراچې بندر په نسبت ۷۰۰ کیلومتره او د عباس بندر په نسبت ۹۰کیلومتره لنده ده،
يعني دچابهارله بندرڅخه د استفاده، د کراچې بندر په
مقایسه دافغانستان د تجارانو لپاره ډیره اطمینان او بیخطره لاره ده او افغانـــي تجاران کولای شي چې له دغې لا رې د خپلو صادراتو اندازه لوړه،ارزانه او آسانه کړي.ایران له دغه بندر څخه د افغانستان تر سرحد پورې د ۲۰۰ کیلومترو په واټن د (راه آهن زرمیلک) په نوم د وسپني پټلی غځوي، چې له هغې لارې به تجارتی اموال ترزرنج پورې رارسیږي او بیا به د دلارام له لارې نوروسیمو ته ځی. دلارام څخه لویه لاره هرات ته او بیا د تورغونډی له طریقه له هیواد بهر مرکزی آسیا او آن اروپا ته رسیږی. په دې ترتیب سره به جنوبی آسیا او د مرکزی آسیا ۱۴ هیوادونه یو بل سره وصل او د ترکیې له طریقه به اروپا ته لار پرانیزي.
له چابهار څخه د آسیا جنوب او هندوستان ته همدا اوس دبیریو دوه لارې پلان شوي دي (چابهار- ممبیی او چابهار- کاندالا). همدا اوس دهندوستان سوداګرو افغانی سواداګرو سره د ۱۲۳ میلیون ډالرو په ارزښت یو قرار داد لاسلیک کړ. دغه تړون د افغانی تولیداتو؛ په تیره بیا دتازه اووچې میوې د هغه نندارتون په پایله کې ترلاسه شو چې د( Best s’Nature) تر عنوان لاندی دایر شوی و. دهندوستان کمپنیو او سوداګرو د افغانستان تازه او وچې میوې، طبی او صنعتی بوټو، شوکانی سره ډیره علاقه ښودلی ده. همدا راز زیات شمیر داسې تجاری اموال؛ په تیره بیا درمل، صنعتی تولیدات او غذایی محصولات شته چې د هندوستان له لوری به افغانستان ته واردیږی. لاندې جدول د چابهار د بندر او نورو لارو مقایسه څرګندوی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

| کابل ته اموالو د رسیدو لاری (فی کانتینر) | واټن (کیلو متر) | مصرف في کانتینر (دالر) | وخت (فی ساعت) |
|---|---|---|---|
| کراچي – کابل (جلال اباد) | 1818.6 | 3000 | **28** |
| بندر عباس – کابل | 1062.6 | 2500 | **15** |
| چابهار – کابل (زرنج ښار، نیمروز ) | 972.6 | 2100 | **10** |

له هند او ایران سره دافغانستان دغه تړون په حقیقت کې یوه اقتصادی منطقه جوړوي، چې دی ته منطقویتوب ویل کیږی. اوس افغانستان له سارک، ایکو، آسیان او شانګهای سازمان سره نږدې اړیکی لری، په ځینو کې غړیتوب لري او په ځینو کی ناظر دی. منطقویتوب ( regionalism) په تیره بیا هغو هیوادونو ته ډیر ضروری ده چې لاتراوسه له اقتصادی پلوه خوار او له سیاسی پلوه په انزواکي دي. دوی په انفرادي توګه ډیرخوار پاتي دي. خوپه یوه منطقوی سازمان کې یی غړیتوب، ډیرمختګ چانس زیاتوي.له پولو بهر څو هیوادونو سره د تجارتی تړون جوړول دیوره دقت، دملی منافعو تضمین کولو، دوه اړخیزه یا څو اړخیزه عادلانه مناسباتو، د اقتصادیت دسنجش او د داسي نورو باریکو مسایلو د کره کتني غوښتنه کوي.

### په تجارت کې ملګرتوب او دمنطقویتوب ګټي:

هیوادونه په ټولنیزو، سیاسی، کلتوری او اقتصادی ډګرونو کې یوبل سره راز راز روابط لري. دغه روابط دتاریخ په اوږدوکي پیچلی او هراړخیز شوي دي، له بلي خوا دټولنو، هیوادونو، سیمو او مناطقو ترمنځ اقتصادی معاملات، راکړې - ورکړې، کلتوری اړیکي، حقوقی اړیکي اویوبل سره تګ- راتګ هم په عرف کې او هم په مدونوقوانینو او اصولو کې منل شوي دي. په تیره بیا اقتصادی مناسبات او دمناطقو او سیمو ترمنځ تولید، دخدماتو دعرضی او داقتصادی پوتانسیلونو توپیر منطقوی ترلتیا رامنځته کړی ده. کله چې د اړتیاوو له مخي دغه ډول ترلتیا رامنځته شی، دی ته سیمه ییز اقتصاد ویل کیږی. سیمه ییز اقتصاد؛ داقتصاد د علم یوه څانګه ده چې دیواقتصاد جغرافیایي جوړښت تر څیړنې لاندې نیسي. په تیره بیا په سیمه کې ترانسپورت، دصنعتي موقعیتونو امکانات ، اقتصادی پوتانسیلونه، د سیمي نسبی مزیتونه، منطقوی تحلیل او د صنایعو ځای پرځای کول ( Industrial location)، سیمه ییزه پرمختیا، دتولید په داخلی مقیاس سپما، ښاري کیدنه (urbanization )، او له څمکي او لاروڅخه ښه ګټه اخیستنه څیړي. په دې کې د اقتصاد د څلورو پوښتنو( څه؟ څنګه؟ څومره؟ چاته؟) تر څنګ د چیرته؟ پوښتني ته هم ځواب ورکول کیږی، چې دغه پوښتنه پخوا نه مطرح شوي وه او نه ځواب ورته موندل شوی و. په دې توګه منطقوی اقتصاد وروسته تر ۱۹۵۰م. کلونو څخه نوی موډلونه تطبیق کړل چې غوره نتایج یی لرل.
یوه ځانګړی اقتصادی منطقه هغه ټاکلی بُعد یا دځمکي یا اوبو(سمندر) یوه په مقیاس سره په نښه شوی ساحه ده چې د فزیکي،انساني، اداری او وظیفوي مشخصاتو پر بنیاد سره تړل کیږی. د دې ډول منطقي په فزیکي مشخصاتو کې یو شمیر فزیکی شاخصونه لکه ځنګلونه، هواري سطحې، منرالي سرچینې، دمناقلاتو لپاره دلارو امکانات او اقلیمي فکتورونه شامل دي. حال دا چې په انساني مشخصاتو کې، دسیمی د کار ځواک مهارتونه، تجربه، تاریخي ،توریستي اومذهبي ارزښتونه او ځانګړتیاوی مطالعه کیږي. په وظیفوي مشخصاتو کی دکاروبار جریانات ،لوایح او مقررات، میډیا اوداسي نور فکتورونه په پام کې وي. د ذکر شویو مشخصاتو او د اقتصادی پوتانسیلونو له مخې هره منطقه بیله بیله ځانګړنه لري، نو دهرې منطقي اقتصادي او منطقه یی پرابلمونه هم سره توپیر لري، نو له همدې امله منطقه یی اقتصاد ته اړتیا پیښیږی، چې د نوموړي علم څخه په ګټه اخیستنې سره دهرې منطقي لپاره پلان جوړاو داسي نوري اړیني کړنې ترسره شي. د منطقه یی اقتصاد د ودې او پالیسی جوړولو موضوعات معمولاً د اقتصادی اغیزمنتوب او د اقتصادی او ټولنیزی برابری له مخې تر کتنې لاندې نیول کیږی.
په منطقه یی پالیسی جوړونه کې د اغیزمنتوب (موثریت) هدف مهم رول لری. له نیکه مرغه اوسنی وخت کې دافغانستان سیمه ییز دریځ له دې پلوه پوره پیاوړی شوی دی. د وچې پنځه بندرونه، د چابهار دبندر فعالیدل، په سیمه کې د یوې لار یو کمربند لویه پروژه او د لاجوردو دپروژې پرانیستل کیدل ډیر نیک زیری دی. دلته به په ځانګړي ډول د چابهار دبندر په بنیګنو او اهمیت رڼا واچول شی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## د چابهار  بندر دهند، ایران او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ یو دهلیز:

سوداګري او تجارت له يوې سيمي بلې ته دځلکو داړتياوو ډيوره کولو لپاره د اجناسو اوخدماتو ليږدول او عرضه کول دی. يعنی داجناسو اوخدماتو تبادله کول تجارت دی. دغه تبادله  دسيمو اومنطقو ترمنځ  صورت نيسی ، نو کله چي د منطقو (هيوادونو) خبره  راځي، خامخا منطقه يی اقتصاد ورسره علاقه لري.  د منطقو ترمنځ د تجارت لپاره د ضرورت مهم لاملونه دادي:

### لومړی) په زياته اندازه توليد:

ممکن يوه منطقه ياسيمه دځانګړی ظرفيت اوغوره امکاناتو له امله  ديو شمير اجناسو په توليد اوياهم ديو شمير خدماتو په عرضه کي غوره توب ولري،  دوی خپل اضافی توليد دنورو سيمو داړتيا وو ډيوره کولو لپاره چي دغه ډول ظرفيت او وړتيا نه لري، ور استوي په دې توګه تجارت داجناسو تبادله بلل کيږي. له نيکه مرغه افغانستان داسي محصولات او توليدات لري، چي د دغه بندر له لاری يي بيلابيلو هيوادوته  صادر  او په دې توګه به په بهرنی سوداګری کی زموږ کسر رفع او د تجارتی بيلانس خواته به نږدې شو. په تيريه بيا وچه او تازه ميوه، وړی، شوکانې، طبی او صنعتی بوټي زموږ ډير ښه بيداوار دی.

### دوهم)  طبيعی منابع:

سيمي اومنطقي دځپلو شتمنيو او اقليم له پلوه يوبل سره توپير لري. د دغو شتمنيو ځخه اضافه ترلاسه شوي توليد هغو سيمو  اومنطقوته ورکول کيږي چي دغه ډول شتمنی نه لري. دبيلګي په توګه دخليج دمنطقي هيوادونه  کافی اندازه نفت لری، دوی خپل نفت نوروټولو  هيوادونو ته صادروي  چي کافی نفت نه لري. دغي سيمي ته د نفتو دتوليد ساحه،منطقه، حوزه ياسيمه   ويل کيږي.  همداسي هم دنړی  بيلابيلو برخو اوځيني وخت ديوه هيواد دننه ، يوشمير ځانګړی مناطق ديوه ځانګړی صفت يابل  اقتصادی  فعاليت  لپاره جلاشوي وي . افغانستان  داسي طبيعی منابع لري چي د پروسس لپاره به يی هند يا د نړی نورو سيمو ته واستوی .

### دريېم)  په لګښتونو کي توپير:

که چيري د يوې سيمي او منطقي ( د يوه هيواد دننه يا د ځو هيوادونو په شمول) ترمنځ د اجناسو او خدماتو د توليد په لګښت کي توپير وليدل شي، نو د ټيټ لګښت لرونکي منطقه ځان  دسيمي په سوداګری کی داخلوي. له بلي خوا د لنډو لارو له طريقه ترانزيت د وارداتو او صادراتو په تمام شد قيمت باندې اغيزه کوي. د چابهار بندر افغانستان ته د واګې، کراچی او عباس بندر په پرتله ډير ارزانه تماميږی (و.ګ: لومړی جدول)

### د منطقوی اقتصاد حدود:

دمنطقو دحدودو ټاکل( تحديد) يو اسانه کار نه دی. که څه هم هره منطقه بيلابيلي اقتصادي، اداري، تاريخي او نوري ځانګرني لري، خو بياهم په دې اړه کوم قناعت بخښونکي ضوابط وجود نلري. په دې برخه کي دنظرونو توافق هم حتمی شرط ندی ، مګر داقتصاد پوهانو او پلان جوړوونکو ترمنځ ځينی وخت په دې اړه چي ګواکي دغه ځانګړي حدود او سرحدات مناسب دي کنه ؟  اختلاف هم وجود لري، ځينی وخت بيا هيڅ اختلاف نه وی. په واقعيت کي، دمنطقو دقيق تعريف ديو داسي کابوس او د تشويش وړ تکي په شان دی چي زياتره منطقه يی اقتصادپوهان ورڅخه دبي زړه توب لورته ميلان لري او په هغه صورت کي چي دوی مجبور وي چي په اداري سيمو باندې دپاليسي دملاحظاتو په اساس باندي کار وکړي او ياهم له نورو فضايي واحدونو څخه دهريو په اړه باندي معلومات او سوابق موجود نه وي، د دې ستونزمن کار له کولو څخه ډډه کوي. لنډه دا چي دمنطقوی اقتصاد حدود تر يوې اندازې د سيمو او  هيوادونو په تصصميم پورې اړه لري. په دې اړه يو واحد تعريف وجود نلري، دتعريف انتخاب بايد په لومړی درجه کي دڅيرني داهدافو پر بنسټ ترسره شي. دبيلګي په ډول که چيري سيمي په  يوه بين الساحوي پلان جوړونه کي دغير متزکزو ملي طرحو ديوې وسيلي په توګه مطلوبي وي،نو په دې صورت کي دسيمو لږ شمير "مثلاً پنځه يا شپږ" مناسب دی. په دې حالت کي ، دمجاورت معيار خورا مهم دی. داخبره ددې معني ورکوي چي دسيستم ساحي بايد يو له بل سره تداخل او ترکيب ونلري ،بلکي بايد له ملي قلمرو سره مجاورت ولري. په دې ډول ، يو بين الساحوي سسيتم په ساده ډول دامعنا لري چي ملي قلمرو په يو ټاکلي شمير مجاورو ساحوباندي وو يشل شي. دايو اسانه کار نه دی. دبيلګي په ډول دهسپانيي تجربه  په نظر کي ونيسئ: دهسپانيي پنځوس ولايتونه دبين الساحوي پلان جوړوني لپاره زيات موثر دي. دغه ډول يوې تجمع ته اړتيا ده . بالاخره ،دتيرو دوو لسيزو يا له دې څخه په زياته موده کي هسپانوي اقتصاد پوهانو او پلان جوړونکو دحدودو دمتبادلو تحديدونو کره شميرې وړاندي کړي. البته دپنځو او شلو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

سیمو په منځ کي . د چابهار بندر کی فعلاً دری هیوادونه شریکان دي، خو دغه تجارت به له جنوبی آسیا تر اروپا وغځیږي.

## د اقتصادی فعالیتونو منطقه یی تحلیل:

ا قتصادی منطقوی تحلیلونه ښکاره کوی چي په ځانګړو سیمو کی د اقتصادی فعالیتونو په تمرکز سره داقتصادي او ټولنیزو تغییراتو محیطي تاثیرات، داقتصادي او اجتماعي شرایطوبرابری، په سیمه کي دسوداګریزو اړیکو پیاوړتیا، د عامه او خصوصي سکتورونو دپراختیا لپاره دمناسب چاپیریال رامنځته کول، داقتصادي او سیمه ایز انضمام پر مټ دزیربنایي پروګرامونوپرمختیا، ددولتي سکتور د ادارو پرمختیا او ښه حکومتولي اهداف ترلاسه کیدای شي. هغه سیمي چي لا تر اوسه وروسته پاتي او انزوا کی دی د هغوتردټولنیزي انزوا راکمول ، د دوی لپاره یو چانس بلل کیږی، افغانستان اوس دغه چانس موندلی دی. تجربو ښودلي ده چي په اقتصاد کی د بیلابیلو سیمو او هیوادو شریک کیدو او اقتصادی ګډو علایقو سیاسی ناملایمات او خوابدئ اوسیالی په ملګرتوب بدل کړی دی. نن ورځ د دغه علم له انکشاف څخه یوه نوی اصطلاح رامنځته شوی چي (freenemy ) ورته وایی. لومړی برخه ( friend) یعنی دوست یا ملګری څخه اخیستل شوی او دوهمه برخه ( enemy) یا دښمن ، یعنی دوست دښمنان ! هغه دسیاسی ډګر دښمنان چي په اقتصاد کی ډیر ښه دوستان او ملګری دی. موږ ته دا ډیره مهمه ده چي سیاسی سیالی په اقتصادی مرستو او پیوستون بدله شی او د دښمنی فضا په دوستانه فضا واوړی.

## منطقه يي والی (Regionalism):

منطقه ټاکنه دپولو په جلا کولو سره پیل کیږي چي هم په لویه کچه وي او هم په کوچني کچه. مناطقو اوسیمو ته ځانګړی نومونه هم غوره کیداي شي او د نقشي پرمخ په ځانګړو جغرافیاوی نښو او رنګونو هم ښودل کیږي. دنړی پرمخ هر هیواد دیوه سیاسی واحد په توګه خپله ځانګړی خپلواکه فضالری ، چي د یوه دولت د قلمروپه توګه پیژندل کیږي.
عملاً دیو شمیر مقاصدو دترلاسه کولو، د یو شمیر ګډوګټو څخه دکار اخیستلو ، یوبل سره دلاس ورکولو او دپیاوړتیا د اوچتولو او نور و موضوعاتو لپاره څو منطقي یوبل ته لاس ورکوي او یوه واحده منطقه ( region) جوړوي. یوشمیر سیمي مطلقاً دسیاسی تصمیم له مخي جوړیږی. یو شمیرنوري داقلیمی خصوصیاتو له مخي جلاکیږي. یو شمیر نوري سیمي داقتصادي ګډو ځانګړنو له مخي اوکیداي شي ځیني سیمي دکلتوری مشترکاتو له مخي په نښه شی. په عمومي توګه دنړی پرمخ منطقي په څلورو ډولونو ویشل شوي دي:

i. دټولی نړی په کچه دځمکی پرمخ دسیمو ویش
ii. دڅو هیوادونو په کچه ویشنه
iii. دسیمي دڅو هیوادونو په کچه ګډه منطقه
iv. په ملي کچه په هیواد کی د منطقو ټاکنه
v. دیوهیواد دننه دکوچنیو منطقو ټاکنه

د چابهاربندر، لاجوردو لارې او د وریښمو لارې یو منطقوي اتصال ایجاد کړی چي افغانستان به په هغو کی محوری ځای ولري. دټولي نړی په کچه دآسیا جنوب دمنطقي په توګه پیژند ل شوي ده چي دنفوسو یو ډیر لوی اکلو مرشن دی. مرکزی آسیا هغه منطقه ده چي د ګازو او نورو معدنی توکو لویي زیرمي لري چي د نړی لویي پانګوني به پکي وشي.
د اقتصادی انضمام او دنړیوالتوب ( globalism) په اوسنی دور کي نړیوالو لویو اقتصادی سازمانونو ته د جوړیدو لاره هواره شوی ده او په دي برخه کی نوری هڅي هم رواني دي. له همدی فرصت څخه په استفادی سره د منطقوی مرستو لپاره هم موقع برابره شوه او یو شمیر هیوادونو وکولای شول چي منطقوی تړونونه او منطقوی اقتصاد راجوړ کړی.په تیره بیا په اروپا کي د تړونو او توافقاتو بنسټ د آلمان، فرانسی، ایټالیا، بلجیم، هالند او لوکزامبورګ د هیوادونو د توافق په پایله کي کیښودل شو. دغه پیښه د ۱۹۵۷م. کال د مارچ په لومړی نیټه وشوه، چي پایله يي بیا په ۱۹۵۸م. کي د جنوری په لومړی نیټه د اروپا د اقتصادی ټولني رامنځته کیدل و. دغه تړون د دي لامل شو چي اروپايي هیوادونه وکولای شی چي د نړی په کچه د کورنیو تولیداتو تر ټولو یو لوی بازار رامنځته کړی، له دی سره یوځای دوی خپل اقتصادی او سیاسی تړون او پیوستون او یووالی نور هم کلک کړ.
په شمالی امریکا کي لومړنی منطقوی موافقه او اقتصادی تړون په ۱۹۶۵م. کال کي د متحده ایالاتو او د کاناډا ترمنځ لاسلیک شوه، چي مهمه برخه يي د موټرو او د موټرو دپرزو د آزادي سوداګری په هکله وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په آسيا کې يوه مهمه منطقوی موافقه د آسيا د جنوب ختيزو ملتونو ترمنځ وه چې په ۱۹۶۷م. کال کې د (Association of South east Asian Nations - ASEAN ) په نوم رامنځته شوه. دغه تړون و کولای شول چې د اندنيزيا، ماليزيا، فلپين، سينګاپور او ټايلينډ د هيوادنو ترمنځ قوی خپل منځی اقتصادی ، کلتوری او ټولنيز روابط کلک او دوی ټول د سولی او ثبات خواته اوچت ګامونه واخلی چې اوس هر يو پياوړی او پر مختللی اقتصاد لري. همداسې هم په افريقا کې ورته ګامونه اوچت شول.
افغانستان په سيمه کې ډير يو پياوړی او مساعد ستراتيژيک ارزښت او خاص منطقوی دريځ لری ، که موږ غوره پاليسی ولرو له دغه موقعيت څخه د سرو زرو په شان ګټه اوچتولای شو. زموږ موقعيت هم زموږ لپاره او هم د ګاونډيو هيوادونو او د مرکزی آسيا، جنوبی آسيا او د دوو نويو لويو اقتصادونو ( هند او چين) لپاره مهم دی. افغانستان کولای شی د تجارت او تمدن په څلور لارې واوړی (لکه زرګونه کاله مخکی يی چې همداسې يو غوره درځ درلود) او د سالم رقابت له لاری د سيمی هيوادو ته په يوه غوره اقتصادی دهليز بدل شی. افغانستان د سيمی د هيوادونو د اقتصادی زيربنا ودې او د ترانزيت او ليږد امکان برابروی.




## افغانستان او د منطقی اقتصاد:

افغانستان له جغرافياوی پلوه په سيمه کی فوق العاده اهميت لری. افغانستان د منځنی آسيا، منځنی ختيځ او د جنوبی آسيا تر منځ د يوه پله حيثيت لری او د سيمی د لويو او نويو اقتصادونو (هندوستان او چين) لپاره نړيوالو بازارونو ته د لاری په توګه ارزښت لری. په سيمه کی د تاريخ په اوږدو کی داسی مدنيت نه و او نشته چې پرته د افغانستان له ګډون څخه رامنځته شوی وی. د تجارت لرغونی او ډيره مهمه لاره (د وريښمو لار) Rout Silk له افغانستان څخه تيريدله او په معاصر وخت کی يې يو ځل بيا خپل مهم ستراتيژيک اهميت بيا وموند. په سيمه کی د نوی وضيعت راڅرګنديدو دا وښوده چې په سيمه کی منطقه يی اقتصاد ته اړتيا ده او د لاجبرو او وريښمو لاره بايد بيا نوی شی. د روسيې، چين او هندوستان ورځ په ورځ پياوړی کيدونکی اقتصاد په منطقه کې يو نوی وضعيت ايجاد کړی دی چې د افغانستان همکاری ته اړتيا لری. افغانستان همدا اوس د سيمی يو شمير منطقه يی جوړښتونو لکه ECO, SCO او SAARC کی فعال ګډون لری. په دې وروستيو کې د چابهار د بندر د تاسيس ترڅنګ ، د لاجوردو لار هم پرانيستل شوه. دلته به د دغو سازمانونو پيژندنه راسره مرسته وکړی چې د افغانستان دريځ جوت شی.
د مالونو تبادله، ترانزيت او بهرنۍ سوداګری د نن ورځی د اقتصاد يو مهم بحث دی. زياترو هيوادونو خپل اقتصاد د ترانزيت او سوداګری له لاری ښه کړی دی. له نيکه مرغه افغانستان د خپل جغرافياوی موقعيت له پلوه په يوه ډيرښه دريځ کی دی. ټاپي پروژه، کاسازر(د نوری فايبرپروژه) او د منطقې درېل پټلی پروژه د دې ډول منطوی همکاری ښه مثالونه دی. افغانستان کولای شی له خپل ستراتيژيک موقعيت څخه په استفادی د مرکزی آسيا او جنوبی آسيا ترمنځ د يوه پله حيثيت ترلاسه او د تجارت په څلورلاری بدل شی. افغانستان ډير پخوا هم کله د وريښمو د لاری پر سر پروت و او کله يې د لاجوردو د لاره مهمه برخه جوړوله. اوس چې يو ځل دا امکان برابر شوی دی چې مرکزی آسيا له جنوبی آسيا سره وصل شی، د افغانستان لپاره يو ډير مساعد فرصت دی. د افغانستان مهم دريځ ته په


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ترکیه کی (د آسیا زړه) په کنفرانس کی د شانګهای د سرمشریزی په غونډه کی او په ۲۰۱۶ م. کال کی د عشق آباد د نړیوال ترانزیت په غونډه کی دی مهمی موضوع ته اشاره وشوه او د سیمی هیوادونو په تیره بیا تاجکستان، چین، ترکمنستان، هند او ازبکستان کلک لیوال دی چی د افغانستان لاری خپل منځنی سوداګری پیاوړی کړی، د چین هیواد ته د افغانستان له اقتصادی او ترانزیتی پلوه ډیر اوچت ارزښت لری، له بلی خوا دا به افغانستان لپاره یو ډیر ښه فرصت وی چی د سیمی د هیوادو له علاقمندیو څخه او د ECO, SCO, WTO او SAARC په سازمانونو کی د غړیتوب په لرلو خپل اقتصاد ته پرمختیا ورکړی.
په نړیوال تجارت او اقتصاد کی ورګډیدل او د Globalism په اوسنی دوران کی خپل اقتصادی دریځ پیاوړی کول د اوسنی عصر یوه تازه او نوی غوښتنه ده. هیڅ هیواد له نړیوال اقتصادی کاروان څخه په انزوا کی نشی پاتی کیدای.
له بده مرغه افغانستان له نن څخه ۱۳۰ کاله مخکی له خپلو طبیعی سرحداتو څخه محروم او د استعماری ځواک له استعماری تصمیم سره سم یی یوه برخه جلا او له نړیوالو اوبو سره یی رابطه پری او په وچه پوری یوه ایسار هیواد باندی بدل شو، دا هغه وخت و چی د نړی د تجارت مخه له وچی څخه د سمندر خوات شوه او انتلانتیک د سوداګری لاره شوه، افغانستان چې وچې پوری ایسار او د نړیوال تجارت څخه ګوښه شوی و، اوس بیرته د پاملرنې مرکزی نقطه وګرځید.
اوس په سیمه کی داسی یوه اړتیا او تفکر رامنځته شوی چی د مرکزی آسیا هیوادونه له جنوبی آسیا سره تجارتی روابط ولری او دغه سوداګری به دسمندر له لارې ارزانه او په لوی حجم ترسره کیږی، دا ځکه چی بحری ترانزیت وسایل د وچې په پرتله د ډیرو محمولو (پیتیو) ګنجایش لری.




افغانستان د چابهار بندر له پرانیستووروسته، دا دې په دې لنډ وخت کې (یوه اونی دمخه) د سمندری تجارت سازمان کې دغړیتوب لپاره غوښتنلیک ورکړ، چې ډیر ژربه د دغه سازمان غړیتوب ترلاسه کړي. دا به زموږ په تاریخ کې یو لومړنی او بیساری اقدام وي. همدا راز تصمیم ونیول شو چې له چابهار څخه به هند ته دوه مسیرونه (تګلوري) فعال شي:

۱.چابهار- ممبیي د هفتې جفت ورځو کې به تګ- راتګ ورباندی کیږی،
۲.چابهار – کاندالا، چې د اونی په تاق ورځو کی به تګ- راتګ ورباندی کیږی.
ډیرر ژر به افغان سوداګر خپلې بیرۍ وپیري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په تازه پریکړه کې داسې فیصله وشوه چې د شانگهای غړی د Euro Asia طراحان او د مرکزی آسیا هیوادونه په دی فکر کی دی چې د چابهار دبندر له طریقه د تورغونډی له طریقه افغانستان او بیا له جنوبی آسیا سره وصل شي، د دی سمندري لاری اهمیت یواځې په دی کی نه دی، چې ترانزیت به لنډ او افغانستان به هند سره وصل شی، بلکی بل ارزښت یی دا دی چې یوه واحده تعرفه به وټاکل شی او ډیر بندیزونه به لری شی. افغانی محصولات (غالی، انار، انګور، ختکي، شوکاني، وړی، مني، طبی بوټي، جنغوزي، لاجورد او ډیر نور) به په ډیره ښه بیه بهر ته ورسولای شو.

له تیرو یونیم سلو کالو راهیسی افغانستان له تجارتی پلوه بد حالت او انزواکی و، خو دا دی اوس یو ځل بیا دا زمینه برابره شوی چې افغانستان له خپل جغرافیاوی مهم موقعیت څخه ګټه پورته کړی او له نړیوال اقتصادی بهیر او تجارتی کاروان سره ګام اوچت او خپل اقتصاد پیاوړی کړی، خو مهمه دا ده چې د دی چاری او امکان لپاره په دقت سره د کار نقشه جوړه شی.

### اندیښنې او ممکنه خنډونه:

له بده مرغه سیمه له امنیتی او سیاسی پلوه ډیره بی ثباته ده. سیاسی کشمکشونه، سیالی، په ځینو هیوادو اقتصادی بندیزونه، رقابت، بی ثباته سیاسی وضعیت هغه ناوړه عوامل دي چي نه یواځې د چابهار بندر، بلکې ډیرو نوروسیمه ییزو پروژو ته هم زموږ هیلی ټکنی کوي.

### اخځونه (REFERENCES):


1. دودیال، محمد بشیر. (۱۳۸۶) د طبیعي منابعو اقتصاد. د پوهنتونونو لپاره درسي کتاب، د لوړو زده کړو وزارت چاپ: کابل- افغانستان
2. دودیال، محمد بشیر.(۱۳۹۶)، منطقوی اقتصاد ، درسی کتاب .ختیځ خپرندویه ټولنه، جلال اباد- افغانستان.
3. صباغ کرمانی، مجید. (۱۳۸۰) اقتصاد منطقه ای. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهي (سمت) : ایران –تهران
4. حافظ نیا، محمد رضا. (۱۳۸۴)، افقهای جدید در جغرافیای سیاسی، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهی (سمت) : ایران- تهران.
5.
5. Blair. P. J. (1991). Urban and Regional Economics, Richard Irwin Inc.
6. Raleigh Barlewe (1980), Land Resources Economic (The Economics of Real property), Michigan state University
7. Karl, Helmut. (2008) Economic Policy. Ruhr-University, Bochum – Economic Policy Department III
8. Nijkaup, P. (1986): Handbook of Regional and Urban Economics, (Vol.1) Elsevier publshers
9. Losch, A. (1964) Regional Development and Planning, MIT press.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

10. *Peter Chalk,* ) 2012 )Occasional paper , Implications for the United States and India’s and Pakistan’s Strategies in Afghanistan ( by the RAND Corporation.
11. ADB (2012). Modernizing Sanitary and Phytosanitary Measures to Facilitate Trade in Agricultural and Food Products: Report on the Development of an SPS Plan for the CAREC Countries
12. Asian Economic Integration Monitor - July 2012 http://www.adb.org/publications/asian-economic-integration-monitor-july-2012
13. Islamic Republic of Afghanistan: Transport Sector Master Plan Update http://www.adb.org/sites/default/files/project-document/81553/47210-001-tar.pdf
14. Project CASAREM (CASA 1000) and Its Impact on Central Asian Countries http://www.forum-adb.org/docs/BW2009Q3-4.pdf
15. Afghanistan Information Management Services. Accessed November 2014. http://www.aims.org.af/
16. ANDS (2008). The Afghanistan National Development Strategy http://www.embassyofafghanistan.org/page/afghanistan-national-development-strategy
17. EWI: East-West Institute (2014). Afghanistan Reconnected: Regional Economic Security Beyond 2014 http://www.ewi.info/idea/afghanistan-reconnected-regional-economic-security-beyond-2014#sthash.6MIend3p.dpuf

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ